د ستراتیژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

**ګڼه: 442**

(13 اسد – 19 اسد 1403 هـ ش)

## په ایران کې د اسماعیل هنیه شهادت: د فلسطین پر مقاومت، سیمې او نړۍ یې اغېزې

---



**دا نشریه د افغانستان او سیمې د مهمو سیاسي، امنیتي، اقتصادي او ټولنیزو پېښو د تحلیل اوونیزه خپرونه ده چې د ستراتیژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز له لوري په پښتو، دري، انګلیسي او عربي ژبو چمتو کېږي او خپرېږي.**

## په دې ګڼه کې لولئ:


- په ایران کې د اسماعیل هنیه شهادت: د فلسطین پر مقاومت، سیمې او نړۍ یې اغېزې ............ 3
- نړیوال غبرګونونه او د فلسطیني مقاومت په اړه راتلونکې سناریوګانې ................................ 3
- په فلسطین کې د مقاومت پر جبهه د اسماعیل هنیه د وژنې اغېزې .................................. 4
- د هنیه له شهادت وروسته د منځني ختیځ د سیاسي او امنیتي وضعیت څېړنه ...................... 6
- د هنیه پر ځای د یحیی سنوار ټاکل او د فلسطین راتلونکی ............................................ 7
- حللارې .................................................................................................. 9
- پایله ............................................................................................... 10
- وړاندیزونه ......................................................................................... 11


Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

## په ایران کې د اسماعیل هنیه شهادت: د فلسطین پر مقاومت، سیمې او نړۍ یې اغېزې

**سریزه**

که څه هم د صهیونیستانو پر وړاندې د فلسطین د مبارزې پیل تر شلمې پېړۍ رسېږي، خو په 1987ز. کال کې د شیخ احمد یاسین له خوا د اسلامي مقاومت غورځنګ (حماس) له جوړېدو وروسته دغې مبارزې لا منظمه او مؤثره بڼه خپله کړه. دغه غورځنګ په دې وتوانید چې په فلسطین او له فلسطین بهر داسې سیاسي او پوځي شخصیتونه وروزي چې شهادت، په خپل فرهنګ کې د خدمت پای بولي او پرې وياړي. په 2002ز. کال کې د حماس د پوځي څانګې بنسټګر صلاح شحادة، په 2004ز. کال کې د دغه غورځنګ بنسټګر شیخ احمد یاسین او د دغه غورځنګ بل مخکښ شخصیت عبدالعزیز الرنتیسی شهید کړای شول. په دې وروستیو کې په بیروت کې د حماس د سیاسي دفتر مرستیال صالح العاروري او د سیاسي دفتر مشر اسماعیل هنیه د صهیونیستي رژیم له خوا په ایران کښې شهید کړای شو.

اسماعیل هنیه په 1962ز. کال د غزې په ترانګه کې د کډوالو په کمپ کې زېږېدلی دی. هغه په ځوانۍ کې د اسرائیلو په خلاف له سیاسي مبارزې سره یوځای شو، د لومړي ځل لپاره په 1987ز. کال کې د صهیونیست رژیم له خوا ونیول شو او د 18 ورځو لپاره په زندان کې و. په 1988ز.کال کې د صهیونیست رژیم له خوا په شپږو میاشتو او په 1989ز. کال کې په دریو کلونو بند محکوم شو. د 2006ز. کال په پارلماني ټاکنو کې د حماس د اسلامي غورځنګ په بریا سره هغه د فلسطین لومړی وزیر شو او له څه مودې وروسته یې له فلسطیني ځواکونو سره د ملي پخلاینې د دروازې د پرانیستلو په خاطر له حکومت څخه استعفا وکړه. بالاخره په 2017ز. کال کې د اسلامي مقاومت غورځنګ د شورا له خوا د حماس د سیاسي دفتر د مشر په توګه وټاکل شو، چې په پای کې د 2024ز. کال د جولای پر 31مه نېټه په تهران کې د اسرائیلو له خوا په شهادت ورسېد. .[1]

د اسماعیله هنیة د شهادت په اړه نړیوال غبرګونونه او راتلونکې ممکنه سناریوګانې، پر فلسطیني مقاومت د اسماعیل هنیه د شهادت اغېزې، د هنیه له شهادت وروسته په منځنۍ ختیځ کې د سیاسي او امنیتي وضعیت ارزونه او د حماس د دفتر د مشر په توګه د یحیی سنوار ټاکل او د فلسطین راتلونکی، هغه مسایل دي چې په دې تحلیل کې پرې بحث شوی دی.

## نړیوال غبرګونونه او د فلسطیني مقاومت په اړه راتلونکې سناریوګانې

اسماعیل هنیه چې د فلسطین د مقاومت له مخکښو شخصیتونو څخه و، هغه مهال شهید کړای شو چې نوموړی د ایران د نوي ولسمشر (مسعود پزشکیان) د معرفۍ په مراسمو کې د ګډون لپاره دغه هیواد ته تللی و. په داسې حال کې چې د څه د پاسه 80 هېوادونو چارواکو په دې مراسمو کې ګډون کړی و، اسماعیل هنیه او د هغه یو ساتونکی د روان کال د جولای د میاشتې پر 31مه نېټه د تهران په شمال کې د هغه د

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

اوسېدو ځای کې د اسرائیلو له خوا د امریکا متحده ایالاتو په همکارۍ، د نړیوالو قوانینو په سرغړونې سره شهیدان کړای شول. دغې پېښې په ملي او نړیواله کچه غبرګونونه راوپارول. چې د فلسطین دولتي چارواکو او فلسطیني جبهې ترڅنګ د چین، روسیې، ترکیې، عراق، افغانستان او په لسګونو نورو هېوادونو دولتي چارواکو دغه برید په کلکه وغانده او په ګڼو اسلامي او عربي هیوادونو کې د هنیه غایبانه جنازه ترسره شوه.[2]

د ایران مذهبي مشر علي خامنه يي او د دغه هېواد ولسمشر مسعود پزشکیان د اسماعیل هنیه وژنه سره کرښه بللې او د هغه د وینې غچ یې پرځان واجب او د دغه هېواد د حکومت دنده بللې ده. پر دې بنسټ، د اسماعیل هنیه د وژنې په اړه د ایران د غچ اخیستنې ګوابښ کېدای شي له لاندې ډولونو څخه پر یو ډول عملي شي:

- ایران ښايي چې د خپل استخباراتي او امنیتي وړتیا ثابتولو لپاره هڅه وکړي، چې د اسرائیلو یو مهم کس ووژني او یا هم مشخص هدفونه په نخښه کړي.
- ایران کېدای شي د غزې، یمن، لبنان او عراق له مقاومتي خوځښتونو سره په همغږۍ یو اندازه، سیستماتیک، سخت او پر یو وخت برید وکړي.
- همدارنګه امکان لري چې ایران د اسراییلو مخالفینو ته وسلې او نور تجهیزات ورکړي او دا ډول مرسته خپله پر اسرائیلو له ګوذار څخه کم نه دی.
- د دې ترڅنګ شونې ده چې د لویدیځ او په ځانګړې توګه د امریکامتحده ایالاتو د فشارونو تر اغېز لاندې ایران د غچ اخیستنې موضوع یوې خواته کړي او د توجیه په لټه کې شي.

## په فلسطین کې د مقاومت پر جبهه د اسماعیل هنیه د وژنې اغېزې

د اسماعیل هنیه شهادت د نړۍ پر ټولو ازادو مبارزینو او د غزې په تړانګه کې د مقاومت پر محور منفي اغېزه درلوده او بې له شکه په هر حرکت کې د لوړ سیاسي مقام له لاسه ورکول منفي اغیزې لري، خو د هنیه د وژنې د خبر له خپرېدو سمدستي وروسته د بېلابېلو سیاسیونو او فلسطیني ډلو له خوا د بیانونو یو سېلاب خپور شو چې په هغې کې هنیه "د فلسطین په خاوره کې د یو ستر ملي مشر" په توګه معرفي شو، چې ځینو ته یې دلته اشاره کوو.

د فلسطین د ملي نوښتګر غورځنګ عمومي منشي ډاکټر مصطفی برغوثي څرګنده کړه چې د "هنیه وینه به ضایع نه شي" هغه د هنیه د سخاوت، استقامت او د ملي یووالي لپاره د صادقانه عمل یوه بیلګه وګڼله چې د هنیه د خوب د پوره کولو لپاره هغه له صهیونیزم سره د مقابلې لپاره د ملي یووالي په رهبرۍ ټینګار وکړ او زیاته یې کړه: د هغه بزدلانه وژنه به یوازې د ازادۍ د ترلاسه کولو لپاره د مبارزې او مقاومت د دوام لپاره د فلسطین د خلکو هوډ زیات کړي.

د اسلامي جهاد غورځنګ د عمومي منشي مرستيال محمد الهندی دې ته په اشارې سره چې اسرائيل په خپل تاريخ کې د لومړي ځل لپاره له داسې مقاومت سره مخامخ دی، اسماعيل هنيه يې د ځوانی له دوران څخه يو استسشهادي پروسه وبلله او ويې ويل: د صهيونيستانو غبرګونونه د خپلو موخو ته د رسېدلو لپاره د رژيم ګډوډې او ناتواني ښيي، هغه زياته کړه چې دغه وژنه د فلسطين مقاومت او د حماس د غورځنګ په هدف نه بلکې ايران هم متوجه کړ او د هنيه وژنه به مقاومت لا پياوړی کړي او دې جنايت ته به د جګړې په ډګر کې ځواب ورکړی شي.

د فلسطين د ازادۍ لپاره د ولسی جبهې د نړيوالو اړيکو مشر ماهير طاهر څرګنده کړه: په دغه جنايت سره دښمن له ټولو سرو کرښو تېر شو او هر څه د هر اړخيز جنګ په لور اړوي او ټينګار يې وکړ چې د مقاومت محور په بشپړه توګه چمتو دی او موږ وينو چې دا مقابله تر ډېره بريده د اکثريت په وړاندې پرمختګ کوي او دښمن به په دې ګناه پښيمانه شي.

همدارنګه د فلسطين د ازادۍ ډيموکراټيکې جبهې د مقاومت او يووالي په بهير کښې د هنيه مهم رول ته په اشارې سره د هنيه وژل د ملت او مقاومت لپاره يوه ستره ضايعه وبلله او زياته يې کړه چې دغه جنايت به خامخا د مقاومت د پياوړتيا، ايمان او ثبات زياتولو سبب شي.[3]

د اسماعيل هنيه شهادت به په فلسطين کې د مقاومت پر جبهو لاندې اغېزې ولري:

• په پيل کې بايد ووايو چې د اسلامي مقاومت غورځنګ حماس د جهادي حرکت سربېره، يو فکري مکتب هم دی چې د اسماعيل هنيه په څېر په لسګونو نور شخصيتونه له ځان سره لري او د همدغې کار لپاره يې رزولي دي. له همدې امله د شهيد اسماعيل هنيه وژنه به د غورځنګ پر پرېکړو، پلانونو او له نورو هېوادونو او سازمانونو سره پر اړيکو ډېر اغېز ونه لري.

• د اسماعيل هنيه شهادت له صهيونيست رژيم سره د فلسطينيانو د مبارزې مشروعيت په ګوته کوي او د فلسطين د خلکو او د مقاومت د جبهو د غصې سبب کيږي چې د اسرائيلو پر ضد به د مقاومت محور لا قوي او بريدونه به زيات کړي او د مبارزې په لاره کې به ثبات راشي.

د اسماعيل هنيه شهادت د فلسطينيانو په منځ کې د ملتپالنې او اسرائيل ضد احساساتو د پياوړتيا او د مقاومت د محور د يووالي او د فلسطين په خاوره کې د اسرائيلو پر ضد د حرکتونو د يووالي لامل ګرځي او ممکن د اسراييلو خلاف د نوي ځواک او منظمو بريدونو لامل شي.

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

## د هنیه له شهادت وروسته د منځني ختیځ د سیاسي او امنیتي وضعیت څېړنه

بې له شکه، منځنی ختیځ د ننني نړۍ لپاره له ډېرو اړخونو مهم دی. له جغرافیایي پلوه دا سیمه د اسیا، اروپا او افریقا د لویو وچو په تقاطع کې موقعیت لري، په دې سیمه کې هر ډول بې ثباتي په چټکۍ سره د نړۍ نورو سیمو ته هم خپرېږي او پراخ جیو پولیټیکي اغېزې پرې اچوي. همدارنګه د منابعو له نظره منځنی ختیځ په نړۍ کې د انرژۍ، تیلو او ګازو یو له مهمو سرچینو څخه دی او په دې سیمه کې هر ډول بدلونونه کولی شي د انرژۍ په نړیوال بازار کې لوی اغیز ولري. له بلې خوا د سوداګریزو لارو څخه؛ د هرمز تنګی او سویز کانال د نړیوال تجارت لپاره د نړۍ له مهمو سمندري لارو څخه دي. په دې سیمو کې هر ډول ناکراری کولی شي د نړیوالې سوداګرۍ د ګډوډولو او د لګښتونو د زیاتوالي لامل شي. له بلې خوا، په منځني ختیځ کې سیاسي بې ثباتي د لویو هېوادونو پر امنیتي او پوځي تګلارو اغېز کولی شي. دا مسله کیدای شي نړیوالې سیالۍ او کړکیچونه زیات کړي. په هر حال اسرائیل د امریکامتحده ایالاتو په همکارۍ او ملاتړ سره د حماس د سیاسي دفتر د مشر اسماعیل هنیه په وژلو سره په منځني ختیځ کې جدي سیاسي او امنیتي خطرونه او په ټولیزه توګه بې ثباتي رامنځته کړې ده، چې ځینې یې دلته یادوو:

- په ایران کې د اسماعیل هنیه او په بیروت کې د لبنان د حزب الله د یوه مشر فواد شکري له وژل کېدو او د اسرائیلو پر وړاندې د ایران او لبنان احتمالي او سختو پوځي او امنیتي عکس العملونه د منځني ختیځ امنیت له ګواښ سره مخ کړی دی. د سیمې د هېوادونو لکه سعودي عربستان، مصر، قطر او ترکیه به دې ته اړ کړي چې د فلسطین د مسئلې په اړه خپل دریځ روښانه کړي، څکه چې اسراییل دې جرم سره د فلسطین په خاوره کې د اوربند او د جګړې د پای ته رسولو په برخه کې خپلې هڅې له منځه وړې دي.
- دا جنایت چې د اسرائیلو له خوا د امریکامتحده ایالاتو په همکارۍ او ملاتړ تر سره شوی، د منځني ختیځ په اړه د امریکا د خود غرضه چلند ښکارندویي کوي، چې د اسرائیلو په هر اړخیز ملاتړ سره غواړي د خپلو سیالانو په تېره بیا د سیمه ییزو قدرتونو ګتې راکمې کړي. په دې صورت په منځني ختیځ کې د امریکامتحده ایالاتو او اسرائیلو پر وړاندې د مقاومت د محور ولاړېدل د سیالانو لکه چین، روسیې او نورو سیمه ییزو قدرتونو لپاره چې د منځني ختیځ په اړه خوبونه لري یو ښه فرصت دی چې  په منځني ختیځ کې د امریکامتحده ایالاتو د لاس لنډولو لپاره په مستقیم یا غیر مستقیم ډول د دې محور ملاتړ وکړي.
- د اسماعیل هنیه له شهادت وروسته منځنی ختیځ له ګډوډۍ سره مخ دی، لکه څنګه چې امریکا، انګلستان او فرانسې له خپلو اتباعو وغوښتل چې له لبنان څخه ووځي، ایران تل له اسرائیلو څخه په  غچ اخیستلو ټینګار کوي او اسرائیلو له خپلو اتباعو غوښتي چې جګړې ته چمتو شي. د دې تر څنګ سعودي عربستان له ایران غوښتي چې د دوي خاوره او فضا دې نه کاروي. دا ټول په منځني ختیځ کې سیاسي او امنیتي ګډوډۍ په ګوته کوي.

د هنیه شهادت بې له شکه د اسراییلو او فلسطینیانو ترمنځ د کړکېچ د زیاتېدو لامل شوی دی. موږ ممکن د مقاومت د محور او په جگړه کې د ښکیلو ډلو لخوا د توغندیو یا انتقامي بریدونو زیاتوالی وگورو. چې په منځني ختیځ کې د بشري حقونو سرغړونو د زیاتوالی لامل کېږي او ممکن یوه نړیوال قهر راوپاروي.

• د اسرئیلو له خوا په ایران کې د اسماعیل هنیه شهادت د اسرائیلو د ماتې ښکارندویي کوي او په دې جنایت سره غواړي سیمه او په ځانگړې توگه ایران په مستقیمه توگه په جگړه کې ښکیل کړي، دا په ډاگه کوي چې نتانیاهو نور د لاسه ورکولو لپاره هیڅ نه لري او غواړي د ځان د تباه کولو ترڅنگ د نورو د تباه کیدو حال هم ووینې.

• دا ممکنه ده چې د هنیه له وژنې وروسته د مقاومت محور او د یحیی سنوار څواکمن شتون د اسرائیلو او امریکا متحده ایالاتو سره د مقابلې لپاره د نورو هیوادونو ملاتړ وغواړي. دا کولی شي په نړیواله کچه د نویو ایتلافونو د جوړولو او د امریکامتحده ایالاتو او اسرائیل ضد دریځونو لامل شي. چې دا تر یوې اندازې پورې دریم نړیوال جنگ ته تیلی وهل دي.

## د هنیه پر ځای د یحیی سنوار ټاکل او د فلسطین راتلونکی

یحیی سنوار چې تازه د حماس د سیاسي دفتر د پخواني مشر اسماعیل هنیه د ځای ناستي په توگه ټاکل شوی، د حماس د اسلامي مقاومت غورځنگ یو له مهمو پوځي او سیاسي شخصیتونو څخه دی، چې د خپل ژوند شاوخوا ۲۲ کاله یې په زندان کې تېر کړي. سنوار د المجد په نامه د حماس غورځنگ د امنیتي خدماتو بنسټ ایښودونکی دی او په ۲۰۱۷ ز. کال کې د اسماعیل هنیه پر ځای په غزه کې د حماس د سیاسي دفتر د مشر په توگه وټاکل شو او په دې وروستیو کې یو ځل بیا د حماس د اسلامي مقاومت غورځنگ د سیاسی دفتر د مشر په توگه وټاکل شو. سنوار په مستعار لکه «د سیوری سړی»، «ژوندی سړی»، او د الاقصی طوفان اصلي پلان جوړونکي په نومونو پیژندل کیږي.[4]

د یادولو وړ ده چې د حماس د سیاسي دفتر د مشر په توگه د طوفان الاقصی د عمومي قومندان یحیی سنوار ټاکل هم په اسراییلو کې اندیښنې زېږولي دي. د حماس د اسلامی مقاومت غورځنگ له دغې پریکړې سره ثابته کړه چې که نړیواله ټولنه د اسرائیلو د جنایتونو په وړاندې بې تفاوته پاتې شي، نو دغه غورځنگ کولای شي د اسرائیلو د جنایتونو په مقابل کې خپل دریځ پیاوړی کړي. له همدې امله د غورځنگ تر ټولو لوړپوړی سیاسي چارواکي په توگه د یحیی سنوار شتون او د هغه د پوځي ماضي ترڅنگ ښایي لاندې سناریوگانې منځته راوړي:

• تر ټولو لوړپوړي سیاسي چارواکي په توګه د یحیی سنوار ټاکل، د هغه د امنیتي او نظامي تجربو سره سره، کیدای شي د اسراییلو سره د خبرو اترو په برخه کې ډیر تهاجمي تګلارې تعقیب کړي، چې کیدای شي د کړکیچ د زیاتوالي لامل شي.

• د حماس له خوا د یحیی سنوار په څیر د خورا پیاوړي نظامي چارواکي د سیاست په سر کې ټاکل، دا د سیمې او اسراییلو د امنیت لپاره خطرناک تعبیر کیدی شي او نړیواله ټولنه دې ته اړ باسي چې په جګړه کې د امریکامتحده ایالاتو د مستقیم حضور په صورت کې د فلسطین د قضیې په اړه په خپل چلند له سره غور وکړي او سیمه ییز او نړیوال ګواښونه جدي په پام کې ونیسي.

• په سیاسي ډګر کې د یحیی سنوار شتون کولی شي په فلسطین کې د مقاومت جبهې یووالي ته وهڅوي او د سیمې قدرتونه پریکنده جګړې ته چمتو کړي.

که له پورتنیو سناریوګانو څخه هر یوه ته وکتل شي، دا د فلسطین د مسئلې په اړه د حماس د اسلامي مقاومت غورځنګ پر دریځ ټینګار او ټینګښت ته اشاره کوي. دلته پوښتنه پیدا کیږي چې د فلسطین راتلونکی به څنګه وي؟

باید وویل شي، چې د فلسطین او اسرائیلو تر منځ د کړکېچ له ډېرېدو وروسته ملګرو ملتونو، امریکامتحده ایالاتو، اروپایي ټولنې، عربي هېوادونو لکه مصر او اردن او د فلسطین د خپلواکې اداري «د محمود عباس په مشرۍ» څو ځلې هڅه کړې او د دوو خپلواکو دولتونو د جوړولو وړاندیز یې کړی چې د فلسطین د ځمکې د ویش په اړه په دوو خپلواکو دولتونو (فلسطین او اسرائیلو) موافقه وکړي ترڅو د فلسطین او صهیونیستي رژیم ترمنځ سوله ټینګه شي.[5] خو اسلامي غورځنګونو او د فلسطین مقاومتي ډلو هیڅکله دا خبره نه ده منلې او تل یې له فلسطیني خاورې د نیواکګرو صهیونیستانو د ایستلو لپاره خپلې مبارزې ته دوام ورکړی دی، خو د الاقصی طوفان د پوځي، جغرافیایي او د وخت د واټن له نظره له اسرائیلو سره له بل هر ډول مقابلې سره توپیر درلود.

نو د پورتنیو قضیو په نظر کې نیولو سره، ویلای شو چې د اسماعیل هنیه له شهادت وروسته د فلسطین راتلونکی او په سیاسي پریکړو کې د یحیی سنوار په څیر د لومړۍ درجې پوځي شخصیت اغیزمن شتون د فلسطین په راتلونکي باندې د څو لاملونو له امله ژور اغیز لرلای شي:

• د ملي یووالي لپاره فرصت؛ لکه څنګه چې پورته یادونه وشوه، د هنیه شهادت کولی شي د فلسطیني ډلو ترمنځ د یووالي د پیاوړتیا لپاره د یو مهم بدلون په توګه کار وکړي. که مختلفې ډلې لکه فتح او حماس یوې ګډې موافقې ته ورسېږي، دغه یووالی د اسرائیلو او نړیوالې ټولنې په وړاندې د فلسطینیانو د دریځ په پیاوړي کولو کې مرسته کولای شي.

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

• په عامه افکارو کې مثبت پرمختګونه؛ دا پیښه د فلسطین د خلکو او همدارنګه د مقاومت په محور او د نورو مسلمانانو په منځ کې د پیوستون او خواخوږۍ احساس زیاتولی شي، ځکه چې په لسګونو هیوادونو کې خلکو د اسماعیل هنیه د شهادت وروسته غایبانه جنازې ترسره کړې او لاریونونه یې وکړل. دا کولی شي د فلسطین د وضعیت په اړه د پوهاوي د زیاتوالي او د دوی د حقونو د ملاتړ سبب وګرځي.

• د بشري حقونو په برخه کې پرمختګ؛ په منځني ختیځ کې د تاو تریخوالي د زیاتوالي او د نړیوالې جګړې د رامنځ ته کیدو د مخنیوي لپاره، سیمه ییز قدرتونه کیدای شي پر اسرائیلو باندې چې د جګړې د پراخولو کوشش کوي فشارونه (بندیزونه یا ډیپلوماټیک اقدامات) وضع کړي او پای کې په فلسطین کې په ځانګړې توګه په اشغال شوو سیمو کې د بشري حقونو د وضعیت د ښه کیدو سبب شي.

• د اسراییلو داخلي بدلونونه؛ د اسراییلو د سیاسي او پوځي بدلونونو ترڅنګ، هغه ټولنیز بدلونونه چې د دې هېواد وګړي هڅه کوي چې د ایران د برید او د مقاومت له محور څخه له وېرې اسراییل پرېږدي؛ دا د فلسطین په راتلونکي هم اغیزه کولی شي. ځکه که د اسرائیلو حکومت د سختو سیاستونو ترڅنګ د وګړو له خوا اندېښنې او فشارونه هم ولري. دا ممکنه ده چې د اسراییلو د حکومت داخلي بنسټونه ورځ په ورځ کمزوري شي او بالاخره به سقوط وکړي.

• عامه افکار او ټولنیز خوځښتونه: د فلسطینیانو او همدارنګه په نړیواله کچه عامه افکار د دې پیښې او بدلونونو له خوا اغیزمن کیدی شي او دا کار کولای شي د ټولنیزو خوځښتونو د پیاوړتیا او د نویو ټولنیزو خوځښتونو د رامنځته کیدو او یا د فلسطینیانو د حقوقو د ملاتړ د زیاتوالي لامل شي او د اوسني وضعیت په بدلولو کې مهم رول ولوبوي.

• پوځي او انتقامي عکس العمل: شونې ده چې حماس یا نورې مقاومتي ډلې د سیاسي مبارزې په ډګر کې د اسماعیل هنیه د شهادت او د یحیی سنوار په شتون کې د اسرائیلو پر ضد د بریدونو شدت زیات کړي او په سیمه کې به کړکېچ لاپسې زیات شي.

دې قضیو ته په پام سره او همدارنګه د اسراییلو هڅې چې په مستقیمه توګه جګړه پر مخ وړي، داسې انګیرل کیږي چې دا جګړه به لږ تر لږه څو میاشتې دوام وکړي.

## حللارې

د فلسطین د مسئلې د حل لپاره، نړیوال او سیمه ییز امنیت او همدارنګه د بشری حقونو د سرغړونو د مخنیوي لپاره موږ لاندې حل لارې وړاندې کوو.



Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

لنډمهاله؛ په منځني ختيځ کې د کړکيچ د لا زياتيدو او په فلسطين کې د بشري حقونو د سرغړونو د مخنيوي په خاطر باید د موقتي اوربند تړون لاسلیک شي او د ښکيلو غاړو ترمنځ د بنديانو تبادله وشي.

دايمي؛ لکه څنګه چې ډېرى هيوادونه په ځانګړې توګه لويديځ هيوادونه دې پايلې ته رسيدلي چې په دې قضيه کې يوازينى ممکنه حل د دوو خپلواکو دولتونو (فلسطين او اسراييلو) جوړول دي. له همدې امله د اسلامي مقاومت غورځنګ حماس تر اداري لاندې د اسرائيلو د مداخلې پرته يو خپلواک فلسطيني دولت جوړول چې د ټولو هيوادونو له خوا په رسميت وپيژندل شي څکه د حماس اداره د سيمې او په ځانګړې توګه د منځني ختيځ اړتيا ده.

## پايله

د حماس د سياسي دفتر د مشر اسماعيل هنيه شهادت به د سيمې او نړۍ په سياسي او امنيتي حالاتو د پام وړ اغيزې ولري. دا پېښه نه يوازې د فلسطين د مقاومت په روحيه او ستراتيژۍ اغيزه کوي، بلکې په منځني ختيځ کې سياسي او نظامي جبهې هم پيچلې کولی شي. د دغې وژنې په وړاندې نړيوال غبرګونونه د فلسطين حالاتو او چيلنجونو ته د نړيوالې ټولنې د اهميت او پاملرنې څرګندونه کوي.

ايران د يوه مهم لوبغاړي په توګه کولای شی د دغې پېښې په غبرګون کې خپل امنيتي او پوځی سناريوګانې تعقيب کړي او دغه هېواد نه يوازې په جدی اقداماتو سره، د دې وژنې اغيزې وننګوي، بلکې په غزه او يمن، لبنان او عراق کې له مقاومتي ډلو سره د همغږۍ په زياتولو سره کولی شي په منځني ختيځ کې د قدرت د معادلې په ډګر کې د نويو بدلونونو لامل شي.

د اسماعيل هنيه وژنه په فلسطين کې د مقاومت پر جبهه ژوره اغيزه لري چې د مختلفو مشرانو په بيانونو او سياسي تحليلونو کې په څرګنده توګه ليدل کيږي. دې پېښې نه يوازې د فلسطينيانو د مقاومت روحيه زياته کړه، بلکې د خلکو او مقاومتي ډلو ترمنځ د ملتپالنې او اسرائيل ضد احساساتو د بيداربدو، په سيمه کې د شخړو او کړکېچونو د زياتېدو او له اسرائيلو سره د مبارزې په برخه کې د نويو بدلونونو او پر سيمه ييز سياست اغيزه کوي.

لنډه دا چې د هنيه شهادت کولی شي د مقاومت په جبهو کې د همغږۍ او يووالي نوي دور ته لاره هواره کړي چې په هغې کې به د فلسطين د آزادۍ او د اسراييلو د تېري په وړاندې د مبارزې په قوت کې مرسته وکړي. په هرصورت، د يادونې وړ ده چې دا بدلونونه کولی شي په سيمه کې د ناخوښۍ او شخړو د زياتوالي لامل شي. اوسنيو شرايطو او د فلسطيني ولس غوښتنو ته په پام سره داسې ښکاري چې د مقاومت غورځنګونه به د بري او خپلو حقوقو د تر لاسه کولو په لور پرمختګ وکړي. په پای کې، دا ټول لاملونه په ډاګه کوي چې جګړه او کړکېچ به دوام وکړي او وروستۍ پايله به د فلسطين په ګټه وي.



Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

## وړاندیزونه

په سیمه کې د وضعیت د ښه والي او په فلسطین کې د بشري حقونو د سرغړونو د مخنیوي لپاره لاندې وړاندیزونه کیږي:

• عربي او اسلامي هېوادونه باید څو اړخیز یووالي ته د رسېدو لپاره هڅې وکړي، داخلی اختلافات یوې خواته کړي او د اسراییلو پر وړاندې خپل دریځ پیاوړی او د فلسطینیانو د حقونو ملاتړ وکړي.

• عربي او اسلامي هېوادونه کولای شي له فلسطینیانو سره مالي او اقتصادي مرستې وکړي او د هغوی د ژوند شرایط ښه کړي او د فلسطین مظلوم ولس تر پوښښ لاندې راولي.

• عربي او اسلامي هېوادونه کولی شي په نړیوالو فورمونو کې په فعاله توګه د ګډون له لارې د فلسطین مسئلې ته د نړیوالو توجو راجلب کړي او د فلسطینیانو د ملاتړ لپاره هڅې وکړي او پر اسرائیلو او امریکامتحده ایالاتو فشارونه زیات کړي.

**پای**

---

[1] . الجزیزة: قادة حركة حماس... 31 جولای 2024، لینک:
https://www.aljazeera.net/videos/2024/7/31/قادة-حركة-حماس-تعرف-على-أبرز

[2] . خبرگزاری صدا وسیما: واکنش‌های بین المللی به شهادت اسماعیل هنیه، 10 اسد 1403، لینک:
https://www.iribnews.ir/fa/news/4296940/واکنش-های-بین-المللی-به-شهادت-اسماعیل-هنیه

[3] . الجزیرة: ماذا قالوا عن هنية و كيف سيؤثر اغتياله على مسار الحرب فی غزة، 31 جولای 2024م، لینک:
https://www.aljazeera.net/politics/2024/7/31/ماذا-قالوا-عن-هنية-وكيف-سيؤثر-اغتياله

[4] . اليوم السابع: رسميا يحيى السنوار رئيسا للمكتب السياسى ...06 آگست 2024م، لینک:
https://www.youm7.com/story/2024/8/6/6665701/رسميا-يحيى-السنوار-رئيساً-للمكتب-السياسى-لحركة-حماس-خلفا-لإسماعيل

[5] . عصر ایران: اسرائیل و فلسطین، راه حل تک کشوری یا دو کشوری؟ 27 دلو 1402هـ.ش، لینک:
https://www.asriran.com/fa/news/943995/اسرائیل-و-فلسطین-راه-حل-تک-کشوری-یا-دو-کشوری-بخش-2%C2%A0

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز نادولتي، غير انتفاعي او خپلواک ارګان دی، چې په ۱۳۸۸ لمريز کال کې په کابل کې جوړ شوی. دغه مرکز د خپلو بې‌پرې او کره څېړنو له لارې، په افغانستان او سيمه کې د پاليسيو د ارزونې او بډاينې لپاره فعاليت کوي.

**اړيکه:**

ايميل: csrskabul@gmail.com info@csrskabul.com

وب سايت: www.csrskabul.net - www.csrskabul.com

شمېره: +93780618000

+93780618000